لومړی کچه

# شپه په خیر، ګلکه!



**لیکوال:** اوشا رانی
**انځورګر:** کېتان راوټسلم

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Good Night Tinku (Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د څوارلسمې سپوږمۍ تکه سپينه رڼا وه. د ملک په فارم کې ټول
څاروي ويده وو.

پرته له ګلک څخه!



”موري، ما ته خوب نه راځي“، ګلک وبنګېدو. خو مور يې غږ
وا نه وريد. هغه ډوبه ويده وه.

هغه په چپ اړخ څملاست، او بيا په ښي اړخ څملاست.
هغه پړمخ څملاست، ستوني ستوغ څملاست.
خو ويده نه شو!



نو هغه بهر تيارې ته ووت تر څو وګوري چې څه شی ليدلای شي. پاس په آسمان کې، ګلک سپوږمۍ وليدله، چې سپينه او ګرده وه، او له ورايه ده ته خاندي. هغه ډېر خوشحاله شو.

ګلک فکر وکړ، ’شپه ښکلې ده،‘.



لېرې د ونې د پاسه، کوچنۍ کوچنۍ رڼاګانې وې. یوه رڼا راکښته
شوه. ”زه اور اورکی یم “، رڼا وویل. "زه په تیاره کې ځلېږم!“
ګلک پوښتنه وکړه، ”ما سره دوستي کوې؟“
اور اورکي وویل، ”هو، بالکل کوم!“



یو شی څنګ ته په هوا کې تېر شو او په یوه ونه کې سر چپه ځوړند شو.

”یه مرغۍ، ستا نوم څه دی؟“، ګلک پوښتنه وکړه.
”زه مرغۍ نه یم، زه یو ښاپېرک یم. زه د شپې لیدلای شم“، ښاپېرک وویل.
ګلک پوښتنه وکړه، ”ما سره دوستي کوې؟“
ښاپېرک وویل، ”هو، بالکل کوم!“



یو ځو پاڼې په وښو کې وخوځېدې. یو څوک هلته پټ و. ګلک پوښتنه وکړه، ”ته څوک یې؟“.

”زه یو ګیدړ یم“، ګیدړ وویل. ”زه د شپې چکر وهلو ته وځم.“

ګلک پوښتنه وکړه، ”ما سره دوستي کوې؟“

ګیدړ وویل، ”هو، بالکل کوم!“



دوه کوچنیو سترګو له یوې ونې څخه ده ته وکتل. ګلک پوښتنه وکړه، ”ته څوک یې؟“

”زه کونګ یم“، کونګ وویل. ”زه د شپې د خوړو لپاره ښکار کوم.“

ګلک پوښتنه وکړه، ”ما سره دوستي کوې؟“

کونګ وویل، ”هو، بالکل کوم!“



چررررپ! چررررپ!

”څوک دی دلته؟“، ګلک غږ وکړ.

”زه یو چورچورک یم“، چورچورک وویل. ”کله چې تیاره وي، زه چرېګم.“

ګلک پوښتنه وکړه، ”ما سره دوستي کوې؟“

چورچورک وویل، ”هو، بالکل کوم!“



ګلک او ملګرو یې تر هغې پورې ټوپونه وهل، ښکته پورته وغورځېدل، یو خوا بل خوا  ورغړېدل تر څو چې ګلک ښه ستومانه شو. ګلک وویل، ”ما ته خوب راځي او زه باید اوس کور ته ولاړ شم.“ هغه ډېر خوښ و چې ګڼ دوستان یې درلودل.

ګلک چې د مور په توده غېږ کې ځان پټ کړی و، وویل، ”مور جانې! شپه د یوازېتوب شی نه دی. په شپه کې ښکلي موجودات شتون لري.“
مور جانې یې په ځواب کې وویل، ”هو، همداسې ده! ستا ملګري د شپې پیدا کېږي، کټ مټ د وحشي سپو په څېر. “



”شپني حيوانات د شپې خوراک کوي، لوبې کوي او کار کوي.
هغوی د ورځې آرام کوي. ته باید اوس ویده شې. خوب به تا ته
سبا خپل د ورځې ملګرو سره د لوبې کولو قوت درکړي. شپه دې په
خير، وړکيه!“ مور يې هغه کلک په غيږ کې نيولو سره وويل.



ګرده روښانه سپوږمۍ ټوله شپه ځلېده او هرې خوا ته يې خپله آرامه رڼا خپروله.

او ګلک ټوله شپه خوب وکړ!

# لارښودونکې پوښتنې

1. د ګلک لیده کاته له کومو ځناورو سره وشول؟
2. آیا تاسو له دغه حیواناتو څخه کوم یو یې لیدلی دی؟ چېرته؟
3. که تاسو کوم حیوان/څاروی وئ، کوم څاروی جوړېدل به مو خوښېده؟ ولې؟
4. آیا تاسو به شپنی حیوان وئ (چې یوازې د شپې فعال وي) که ورځنی حیوان (چې د ورځې ګرځنده او فعال وي)؟ ولې؟
5. آیا تاسو د نورو داسې حیواناتو په اړه فکر کولای شئ چې د شپې ویښ وي خو د ورځې ویده وي؟ د هغه حیواناتو په اړه څه وایاست چې د ورځې ویښ وي او د شپې ویده وي؟